ډاکټر لودویگ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۶/۱۸

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
### (ځلور اتیاېمه برخه)

## سید مسعود پوهنیار

(د عدلیې د پخواني وزیر) میر سید قاسم خان زوی په ۱۹۱۵ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۳۷ز کال کې د حبیبیې له لیسې څخه فارغ سو. په ۱۹۳۹ز کال کې د مطبوعاتو د ریاست د نشراتو د څانګې، د دوهمې برخې غړی. په ۱۹۴۱ز کال کې د مطبوعاتو د ریاست د متن پېژندنې (فیلالوژي) [1] مدیر. په ۱۹۴۳ز کال کې د انسایکلوپیدیا مدیر. په ۱۹۴۵ز کال کې د بدخشان او قطغن د ولایت د مطبوعاتو مدیر. په ۱۹۴۷ز کال کې د مطبوعاتو د ریاست د باندنیو نشراتو مدیر او ورسره هممهاله د باندنیو چارو په وزارت کې د باندنیو اړیکو د مدیریت مدیر. له ۱۹۵۰ تر ۱۹۵۴ز کال پورې په لندن کې د افغانستان د سفارت لومړی سکرتر. په ۱۹۵۴ز کال کې د قنسلګریو د مدیریت مدیر. په ۱۹۵۷ز کال کې د باندنیو چارو د وزارت د سیاسي چارو د ریاست د لومړۍ څانګې مدیر. په ۱۹۵۸ز کال کې په کویټې کې قنسل. په ۱۹۶۱ز کال کې د باندنیو چارو د وزارت د سیاسي چارو د ریاست د دوهمې څانګې مدیر. په ۱۹۶۲ز کال کې د باندنیو چارو د وزارت د کلتوري اړیکو مدیر. په ۱۹۶۳ز کال کې د کوډ [2] او سکرتریت عمومي مدیر. په ۱۹۶۴ز کال کې د پېښور قنسل. د باندنیو چارو د وزارت د ملګرو ملتونو د اړیکو د مدیریت مدیر. له ۱۹۶۷تر ۱۹۷۱ز کال پورې د قبائیلو د ریاست رئیس. په ۱۹۷۳ز کال کې د باندنیو چارو د وزارت د اداري چارو مرستیال وزیر. په ۱۹۷۴ز کال کې ولسمشر محمدداؤود په روم کې د افغانستان د سفارت د سفیر په توګه مقرر کړ او تر ۱۹۸۲ز کال پورې په همدې مقام پاتې سو. وادۀ ئې کړی چې دوه لوڼې او دوه زامن لري. اوس په جرمني کې اوسېږي.

## ډاکټر علي احمد پوپل

د محمد مُکـَرَم زوی په ۱۹۱۶ز کال کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۳۸ز کال کې د نجات له لیسې څخه فارغ سوی او ورپسې جرمني ته لاړ او په ۱۹۴۱ (؟) کال کې ئې په (جنه) [3] کې د (فلسفې دکتورا) [4] تر لاسه کړه. په ۱۹۴۲ز کال کې

[1] - Philology
[2] -Conding
[3] - Jena
[4] -Dr. Phil degree


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

افغانستان ته راستون سو او د نجات د ليسي مدير او  له ۱۹۴۲ تر ۱۹۴۶ز کال پورې د جغرافيي ښوونکی سو. له ۱۹۴۶ تر ۱۹۴۹ز کال پورې د دارالمعلمينو د تدريسي ميتود او د روان پېژندنې استاد او د ښوونې اوروزنې مدير. له ۱۹۴۹ تر ۱۹۵۱ز کال پورې د ښوونې او روزنې عمومي مدير. له ۱۹۵۱ تر ۱۹۵۵ز کال پورې د معارف د وزارت مرستيال. له ۱۹۵۵ تر ۱۹۶۳ز کال پورې د معارف د وزارت وزير. د دوهم ځل لپاره د معارف وزير او  له ۱۹۶۳ تر ۱۹۶۴ز کال پورې دوهم مرستيال صدر اعظم. له ۱۹۶۴ تر ۱۹۶۶ز کال پورې په بُن کې د افغانستان د سفارت سفير. او له ۱۹۶۶ تر ۱۹۶۷ز کال پورې په انقرې کې د افغانستان د سفارت سفير. د دريم ځل لپاره د معارف وزير او د ۱۹۶۷ د اکتوبر له مياشتې تر ۱۹۶۹ز کال پورې د صدراعظم لومړی مرستيال. له ۱۹۶۹ تر ۱۹۷۴ز کال پورې په پاکستان کې د افغانستان سفير. او له ۱۹۷۴ تر ۱۹۷۷ز کال پورې په جاپان کې د افغانستان سفير.  او له ۱۹۷۷ تر ۱۹۷۸ز کال پورې په شوروي اتحاد کې د افغانستان د سفارت سفير. په امريکا ،اروپا او آسيا کې ئې د معارف له ګڼ شمېر ښستونو څخه ليدنه کړې ده. يو شمېر مقالات ئې ليکلي دي چې په افغانستان، تورکيې او لويديځې جرمني کې چاپ او خپارۀ سوي دي. د معارف لومړی مډال، د سردار اعلی د لقب فرمان او همدا رنګه له لويديځ جرمني، مصر او يوګوسلاويا څخه ئې هم مډالونه تر لاسه کړي دي. په کابل کې اوسېږي.

## عاليه پوپل

د ملالی له ليسي څخه فارغه سوې ده. خپل ليسانس ئې په افغانستان کې تر لاسه کړی دئ او همدا شان د امريکا په متحده ايالاتو کې ئې هم زده کړې کړي دي. ښوونکې. د کابل پوهنتون د ښوونې او روزنې / تعليم او تربيې د انستيتوت غړې. د اساسي قانون د تسويد د کميسيون غړې.

## سلطان احمد پوپل

په ۱۹۱۳ز کال کې زېږېدلی دئ. له ۱۹۴۵ تر ۱۹۶۵ز کال پورې د کانو او صنايعو په وزارت کې کارمند. له ۱۹۶۵ تر ۱۹۶۸ز کال پورې د چکوسلواکيا سفير. په انګليسي، جرمني او دري ژبو د څو آثارو مؤلف. په پښتو، دري، انګليسي او جرمني ژبو خبرې او ليکل کولی سي. په ۱۹۸۲ز کال کې په جرمني کې وفات سو.

**پوپلزی** : وګورئ : پوپلزی

## نادر علي پويا

د بريګيډيير صمدعلي خان، چې يو دايزنګي هزاره وو، زوی د ۱۹۴۰ز لسيزې په اوړدو کې د مزارشريف په چمتال کې زېږېدلی دئ. په مزار شريف کې له ليسي څخه له فارغېدلو وروسته ئې د کابل په پلتخنيک انستيتيوت کې تحصيلات وکړل. د شعلۀ جاويد ـحزب ډيموکراتيک نوين – ژـ لپاره ئې کار وکړ. د ۱۹۶۰ز لسيزې په اوږدو کې د دوه وو کالو لپاره زنداني سو. بېرته د پلتخنيک انستيتيوت ته راغی او له شعلۀ جاويد څخه په وتلو ساما ـسازمان آزادي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

بخش مردم افغانستان – ژ، ته راغی. د ساما دوهم مشر او په ۱۹۷۹ز کال کې د عبدالمجید کلکاني ځای ناستی. په ۱۹۸۱ز کال کې یو ځل بیا ونیول سو او په ۱۹۸۲ز کال کې په اعدام محکوم سو. په بحث او مناظرې کې فوق العاده متبحر، عالي سازمان ورکوونکی او تکړه محرک. مورنی ژبه ئې دري وه.

## عبدالستار پردلي

د نیمروز ولایت بومي اوسېدونکی چې د ۱۹۴۰ز لسیزې په وروستیو کې زېږېدلی دئ. د کابل پوهنتون د ادبیاتو له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۸۰ز کال کې د افغان سوداګریزو اتحادیو د مرکزي شورى رئیس. په ۱۹۸۵ز کال کې د خلق دیموکراتیک ګوند – ژ، د مرکزي کمېټې، انقلابي شورى او د پلار وطني ملي جبهې/ جبهۀ ملي پدروطن غړی. دی یو بلوڅ دئ.

## عبدالقدیر پور ِ غني [5]

د نصواري په مستعار نوم د عبدالغني زوی په ۱۹۱۹ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۳۳ز کال کې ئې خپلې لومړنی زده کړې د مزار شریف په عزیز آباد کې بشپړې کړې. په ۱۹۳۴ز کال کې کابل ته راغی، او د ښکلیو هنرونو په ښوونځي کې شامل سو. مؤرخ او د دري ژبې شاعر.

## عبدالقهار قادري

په پغمان کې زېږېدلی دئ. د شرعیاتو له پوهنځي څخه د لیسانس په درجې فارغ سو او بیا ئې د مصر له الازهر څخه خپله ماستري تر لاسه کړه. د کابل پوهنتون د شرعیاتو د پوهنځي د اداري چارو کارمند او مدرس.

## شیرعلي قانون

د حسین علي زوی، په ۱۹۰۴ز کال کې په غزني کې زېږېدلی دئ. زده کړې ئې په هرات کې کړي او له ۱۹۱۱ تر ۱۹۳۴ز کال پورې ئې په هرات کې ژوند کړی دئ. په ۱۹۳۴ز کال کې د کابل د ښکلیو هنرونو د ښوونځي ښوونکی. د ملي بانک په کتابتون کې کتابدار. متقاعد. خطاط او شاعر. د ۱۹۶۰ز لسیزې په وروستیو کې وفات سوی دئ.

## غلام محي الدین قره باغي : ،خان قره باغی – ژ،

،د نور محمد تره کي اوښی، په ۱۹۴۲ز کال کې د غزني د قره باغ په ملاخیلو کې زېږېدلی دئ. یوازې دوه کاله ئې رسمي زده کړې کړي او پاتي نور ئې په خپله په شخصي توګه کړي دي. د افغانستان په راډیو او ټلویزیون کې د پښتو

---

[5] - Pur-i-Ghani, Abdul Qadir


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

مشهور سندرغاړی سو. ویل کېږي چي د ۱۹۸۰ز کال د جون په میاشت کي د مجاهدینو په وسیلي په داسي حال کي ووژل سو چي کابل ته نېږدې ئې خپل موټر چلاوۀ.

## ملک الشعراء قاري عبدالله

د حافظ قطب الدین زوی په ۱۸۷۱ز کال کي په کابل کي زېږېدلی دئ. د شهزاده عنایت الله خان امام او خصوصي ښوونکی. د امیر حبیب الله مقرب. له ۱۹۰۸ تر ۱۹۲۸ز کال پوري د حبیبیې او استقلال د ښوونځیو ښوونکی. له ۱۹۳۰ تر ۱۹۳۸ز کال پورې د کابل د ادبي ټولني غړی. په ۱۹۳۶ز کال کي ملک الشعراء سو. په ۱۹۳۹ز کال کي د مطبوعاتو د ریاست سلاکار/مشاور. د ګڼ شمېر تدریسي کتابونو او ادبي آثارو مؤلف. د شبلي نعماني شعرالعجم ئې له اردو څخه دري ژبې ته وژباړۀ. شعري دیوان ئې یوازې په کابل او هندوستان کي چاپ سوی دئ. مورنۍ ژبه ئې دري وه. په ۱۹۴۴ز کال کي وفات سو.

**نور بیا**

## احمد ضیاء قاري زاده

د قاري دوست محمد زوی په ۱۹۲۲ز کال کي په کابل کي...

قدرمنو لوستونکو! د ښاعلي رحمت آریا د آرشیف: لینک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ